مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوال : میرویس خان عبدالی
لیکونکی: قاسم باز

۲۰۲۶/۰۶/۱۱

# د ښاغلي سردار محمد داؤد خان په مشرۍ کې د افغانستان د پوهنې بهیر

لمړۍ برخه

د لمړي وزارت پیر

د 1332لمریز کال د «وړي» له میاشتې څخه !

**په 1333ل کال کې !**

د پوهنیز کال په پیلېدو سره د پوهنې وزارت پرېکړه وکړه چې د هیواد و ماشومانو ته د ښې ښووني او د نوموړو د غوره روزنې په موخه د ښووني او روزنې پوهنځی رامنځته کړي ترڅو پوه او وړ ښوونکي افغان ټولنې ته وګماري. دا پرېکړه د 1334ل کال د «وري» میاشتې په نهمه نیټه پلې سوه.

**په 1334ل کال کې !**

په بېلابېلو ولایتونو کې پنځوس کلیوالي ښوونځي پرانیستل سول. په کندوز کې د نجونو د لمړني ښوونځي ترڅنګ په شپږ نورو ولایتونو کې ورته ښوونځي پرانیستل سول. د «رابعه بلخي لمړنی ښوونځی» په منځني ښوونځي واوښت. په دارالحفاظونو کې د قرآن عظیم الشان د حفظ ترڅنګ د فقې، صرف و نحو، عقاید او منطق، تجوید او قرائت زده کول هم خامخایي سول. نهویشت زدکړیالان د لوړو زدکړو لپاره دباندنیو هیوادونو ته واستول سول. د ښووني او روزنې وزارت پرېکړه وکړه چې د پیداګوژۍ انستیتوت رامنځته کړي ترڅو په نوموړي انستیتوت کې ښوونکي وروزي چې د همدغه کال په روستیو کې انستیتوت پرانیستل سو او په لمړي کال لس ښوونکي پکښې وروزل سول....

**په 1335ل کال کې !**

د هلکانو لپاره 91 او د نجونو لپاره دوه کلیوال ښوونځي پرانیستل سول. د هلکانو لپاره اتلس او د نجونو لپاره درې لمړني ښوونځي پرانیستل سول. اتلس د نالوستو ځټانو د زدکړو کورسونه رامنځته سول. د هلکانو دوه او د نجونو یو منځني ښوونځي رامنځته سول. د نجونو دوي لیسې رامنځته سوې. په دغه کال کې په لمړنیو ښوونځیو کې د زدکړو لپاره د نویو ګډونوالو هلکانو او نجونو شمېر تر 13000 واوښت، د لمړني پړاو د روزل سوو زده کوونکو شمېر 3674، په مسلکي ښوونځیو کې د روزل سوو شمېر 571، او په لیسو کې د روزل سوو زده کوونکو شمېر 84 وو. د دباندنیو بنسټونو لخوا 150 سکالرشپ او فیلوشپونه افغانستان ته ورکړل سول چې یواځې 110 یې امریکایي نړیوال اداري ول. د افغان ښوونکو استازو بوې ډلګۍ له شوروي یووالي څخه لیدنه وکړه. د نالوستی د لمنځه وړلو او د زدکړو د پیاوړتیا لپاره د «بخوان و بدان» تر پیللیك لاندې بوه اونیزه هم څېره سوه چې په زرګونو شمېر یې په وړیا توګه وګړو ته ووېشل سوه. د کرهنې پوهنځی رامنځته سو چې څوارلس زدکړیالان یې درلودل او د انجینرۍ د پوهنځی سره یوځای د کابل پوهنتون په چوکاټ کې وو، د 1337ل کال د لړم په میاشت کې د کرهنې او انجینرۍ پوهنځیو یوځای خپلې چارې مخته وړلې خو په 1342ل کال کې د انجینرۍ پوهنځی بېل سو، د کرهنې د پوهنځی د رامنځته ته کولو موخه! د مسلکي او فني کدرونو روزل او د هیواد د کروندو او څارویو د تولیداتو اوچتول وه چې «د خاورې پېژندلو» «اوبو لګولو» «حیواني علوم» «حفاظه نباتات» «مېوه جات» «ځنګلونه» «اګرانومبي» «اقتصاد زراعتي» او پلانګذارۍ ډیپارتمنتونه یې درلودل، د انجینرۍ د پوهنځي د رامنځته کولو موخه! د خوځند کدرونو روزل او پالنه په تخنیکي، انجینرۍ، پول رغوني، سړك رغوني، د ډنډونو او ویالو د اوبو او برېښنا په څانګو کې وه. په همدغه کال کې د «وړي» میاشتې په لمړۍ نیټه په ننګرهار کې د ننګرهار دارالمعلمین او د «وړي» میاشتې په اتلسمه نیټه په کندهار کې د میرویس نیکه دارالمعلمین پرانیستل سول. او د افغانستان د پوهنې زدکړو بهیر پر څلورو برخو ووېشل سو، لکه! لمړنۍ، منځنۍ، مسلکي او عالي...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**په 1336ل کال کې !**
د اقتصاد پوهنځی رامنځته سو، د نوموړي پوهنځي موخه! په اقتصادي، مالي او سوداګریزو څانګو کې د ګمارل سوو او لوړپوړو متخصصینو روزل وه، پکښې د ګډون شرط د لیسې بریلیك او د زدکړو موده یې څلور کالونه وه... په همدغه کال کې د ښځینوو لپاره درېو پوهنځیو شتون درلود چې د ادبیاتو، ساینس او د ښځینوو د طب څانګې یې درلودې....
په 1337ل کال کې!د هیواد په کچه د نالوستو غټانو د زدکړو لپاره دېرش کورسونه او 28 کلیوال ښوونځي پرانیستل سول. د غوېي مېاشتې په 19 نېټه د فارمسي پوهنځی رامنځته سو چې د فارمو کولو ژۍ، فارمو ستیك، میکوروبیالوژي، فارمکو داتمي یا تاکسیولوژۍ (فارمیسي شمیك)، بیوشیمی او مواد غذایي ډیپارټمنتونه یې درلودل، او موخه یې دا وه چې! د هیواد په روغتونونو کې پوه او وړتیا لرونکي د درمل رغوونکي ولرو...
**په 1338ل کال کې !**
پنځوس نوي ښوونځي پرانیستل سول. د نالوستو غټانو لپاره څلوېښت کورسونه رامنځته سول. د ماشومانو د تفریح لپاره وړکتونونه ورغول سول چې ډوډۍ او شیدې به یې ورکولې او په هرو پنځلسو ورځو کې به یې معاینه کول. په همدغه کال د افغانستان د لمړي وزیر والاحضرت ښاغلي سردار محمد داؤد خان لخوا د کابل پوهنتون د ودانۍ د بنسټ ډبره کښېښودل سوه .
**په 1339ل کال کې !**
د کابل د صنایعو د ښوونځي تر اداري لاندې د پوهنې د زده کوونکو لپاره د موسیقی کورس رامنځته سو...
**په 1340ل کال کې!**
له لمړنیو او منځنیو ښوونځیو، لیسو او مسلکي ښوونځیو او دارالحفاظونو څخه 14490 زده کوونکي فارغ سول...
**په 1341ل کال کې !**
۱۴ منځني ښوونځي پرانیستل سول او نهه لمړني ښوونځي په منځنیو ښوونځیو واوښتل
ښاغلي سردار محمد داؤد خانؒ د 1341 لمریز کال د «کب» مېاشتې تر 11 نېټې پورې! نهه کالونه، شپږ مېاشتې او یوولس ورځې د افغانستان لمړی وزیر (صدراعظم _رئیس الوزرأ) په توګه دنده مخته وړې.
رب العٰلمین جل جلاله دې د شهادت درجې اوچتې کړي، وياړلې يادونه دې تلپاتې وي
اللّٰهم آمین


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځير و لولـئ